**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# له کورنۍ سره مرسته

## دويم ټولګی، دويم سمستر، دويمه سويه



د لوستلو لپاره آزمايښتي مرستندوی کتاب

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# له کورنۍ سره مرسته

## د دویم ټولګي د دوویشتمې اونۍ لپاره

پښتو
مرکز، ننګرهار، افغانستان

د لوست دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان یې لولي» پروژې
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی

ليکوال: احسان الله سباوون

ايډېټور: آصفه ساپۍ

انځورګره : بهشته محسني

د تصحيح کمېټه

---

اسلامي: شهيدالله عزيزي

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: محمد سهراب ديدار

بسم الله الرحمن الرحیم



طاهر او سارا له ښوونځي څخه راغلل.
سارا له مور سره په کارونو کې مرسته کوله.
طاهر لوبې کولې.

طاهر وویل:
موري! زه هم درسره مرسته وکړم؟
مور یې وویل:
نه زویه!
زما کارونه کم دي.
ته دې له پلار سره مرسته وکړه.
طاهر وویل:
پلار مې چېرې دی؟



مور یې وویل:

پلار دې پټې ته تللی دی.

ورسره مرسته وکړه.

خوشحاله به شي.

طاهر وويل:

سمه ده.

زه به پټې ته ولاړ شم.

له پلار سره به مرسته وکړم.

پلار به مې خوشحاله شي.



طاهر پټي ته ولاړ.
پلار يې ګندنه رېبلې وه.
طاهر د ګندنې ګېډۍ کور ته
راوړې.

سارا هم کارونه خلاص کړي وو.
طاهر وویل:
مورې!
اوس نو لوبې وکړو؟



مور يې وويل: ولې نه.

تاسو په کارونو کې مرسته وکړه.

کارونه ژر خلاص شول.

اوس نو د لوبې وخت دی.

طاهر او سارا لوبې پیل کړې.
مور او پلار یې په خوشحالۍ
ورته کتل.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.